مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۵/۰۳/۰۳

# غــزل

ستا راتګ دومره ښاغلی دی مرشده
د زړه درد مي قراريږي په رکود دی

ها ابلیس ګوره حاسد ستا په خلقت شو
دا بنده ګوره باداره چي سجود دی

راشه بيا يي که زري چي راتول نشی
رغيدلی مي ريزه، ريزه وجود دی

درد و څريکي سره سوی هم پکي شته خو
پرهرونو کي مي آهه ستا کمبود دی

په لګ اخله په يوه يي ببرته پلوره
د حالاتو جبر دغه رنګي سود دی

د ښاري وحشت يي ستر ګي رونوي نه
د ښار ړوند پاچا د بل جهان موجود دی

موږ په اور ماحول کي مسته مينه پالو
دی په شته ؤ فرصتونو کي نابود دی

نيت يي بد دی، دا زما د رقيب حق دی
خو د يار نظر نو ولي د حسود دی

په سپين مخ باندي د هر چا پيرزو بويه
د اياز تقدس وړی ترک محمود دی

د يارانو مجلس ګرم په سپوږمی ده
د سمسور نظر د ستورو په سعود دی

۲۵/ ۷/ ۲۰۲۱



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولـئ